BBC AEP UNESCO

# خپل هېواد وپېژنئ



دافغانستان لپاره دبي بي سي دتعليمي
پروژواويونسکوګډه خپرونه

| | | |
|---|---|---|
| خپروونکې | : | افغان نشراتي اداره ( انا ) |
| مسؤول مدير | : | شيرازالدين صديقي |
| ليکوال | : | جان الن |
| انځورګر | : | صديق ژکفر |
| ژباړونکی | : | احمد تکل |
| دکمپيوټرسمبالوونکی | : | ايمل سنګريار |
| دچاپ ځای | : | پبليک آرټ پريس |
| پرله پسې ګڼه | : | ١٩ ٠ ٠ / ١ ٠ ٠ ٢ / ٠ ٠ ٠ ١ |

ددې کتاب ټول حقوق د ( انا ) لپاره خوندي دي

**پته :**

*دبي بي سي تعليمي پروژې*

*٨ / آبدره روډ ، يونيورسيټي ټاون*

پوست بکس ٩٤٦ ، پيښور

*ټيليفونونه :* (٩٢) ٩١ ٨٤٢٣٢٠

(٩٢) ٩١ ٤٢٧٦٥-٦٦

فکس : (٩٢) ٩١ ٨٤٢٣١٩

ACKU

PROPERTY OF ACKU

# فهرست

- سریزه.................................................. الف
- افغانستان او دوړپښمولا ره.................................... ۱
- دافغانستان شتمن فرهنگي میراث.................................. ۳
- مذهب، علوم او پوهنه په افغانستان کې.............................. ٦
- دافغانستان موقعیت په سیمه او نړی کې.............................. ۸
- ولې موږ باید دخپلو ملي شتمنیو ساتنه وکړو؟.......................... ۹
- موږ باید خپلې ملي شتمنۍ خوندي وساتو............................... ۱۲
- څنگه خپلې ملي شتمنۍ خوندي ساتلی شو؟............................. ۱٥
- ولې موږ باید دخپل هېواد او دهغه
دتاریخ په باب ځانونه وپوهوو؟...................................... ۱۸

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033476 2

- له اسلام څخه مخکې: .......... ۲۰
سرخ کوتل .......... ۲۰
بامیان .......... ۲۲
گندهارا .......... ۲٤
- اسلامي دوره .......... ۲۷
غزني .......... ۲۸
هرات .......... ۳۱
مزارشریف او بلخ .......... ۳٤
کابل .......... ۳۷
کندهار .......... ٤۰
- خپل هېواد و پېژنئ .......... ٤۳
- پېښ لیک .......... ٤٤
- پوښتنې .......... ٤۸
- بحث او فعالیت .......... ٤۹

ACKU

«نوی کور، نوی ژوند»

# خپل هیواد و پېژنئ

دافغـان نشـراتي اداري «انا» تولوکارکوونکوته ډېري خوشالۍ ځای دی چې درنو لوستونکوته د «خپل هیوادوپېژنئ» کتاب وړاندې کوي. له جان الن نه ډېره مننه کووچې دافغانستان اودهغه د تاریخي اوفرهنګي میراث په باب د یوه ساده لوست دلیکلوپه فکرکې شو.

داکتاب دهیوادسوله ییزې ماضي ته یوه کړکۍ پرانیزي چې له یوې خوابایدد کورنۍ جګړې له ایرونه راپاځیږي اوداتریخ حقیقت ومني چې دخپلوتاریخي شتمنیو یوه زیاته برخه یې له لاسه ورکړې ده اوله بلې خوادخپلې بشپړتیا، یووالي اودسولې دبیاراوستوپه لټه کې شي.

له میرمن «نانسي هیچ دوپرې» نه هم دزړه له کومي مننه کووچې په کتاب کې دافغانستان اودهغه د تاریخي اثاروپه باب دراغلوموضوعاتوپه برخه کې یې خپلې علمي زیرمې په خلاص مټ پرمو ږ ولورولې. میرمن نانسي دوپرې همداراز له خپل

شتمن ارشیف (د «اریک »کتابتون) څخه ځینې ارزښتمن تصویرونه هم مورته برابرکړل چې په بل ځای کې دهغوموندل گران کار و. په بېلابېلوکیفیتونو سره د تصویرونواوعکسونو چاپول هم دکتاب دچاپ په لاره کې یوبل خنډ و. ددې ستونزې دحل لپاره ټول تصویرونه ښاغلي صدیق ژکفربیاانځورکړل. د ښاغلي ژکفرهنري توان دافغان نشراتي ادارې په برياووکې بنسټيزارزښت لرلی دی.

هیله من یو برسیره پردې چې زموږلوستونکي به دا کتاب (خپل هیواد وپیژنئ) دافغانستان دشتمن فرهنگي میراث په باب یوه گټوره سرچینه وگڼي له لوستلونه به یې بشپړخوند هم واخلي.

په درناوي

شیرازالدین صدیقي

دافغان نشراتي ادارې مسؤول مدیر

# افغانستان او دورېښمو لار

افغانستان يو لرغونى او شتمن تاريخ لري چې څوزرو کالو ته رسېږي. دا هېواد په يوه مهمه څلورلاره کې پروت دى چې دورېښمو



لار نوميږي. دوريښمو لويه لاره دختيځ، لويديځ، شمال او جنوب ترمنځ پرته ده اودډېروغرونو، دښتو، جلګواو سيندونوله لارې تيريږي. ډير نامتو خلک پلي يا سپاره په دې لاره تير شوي دي او ددې هيواد دتاريخ په جوړولو کې يې خپله ونډه اخيستې ده. په دې خلکو کې لوی پاچايان او اميران هم ديادولو وړدي لکه دمقدونيې پاچا لوی سکندر، له مغولستان څخه چنګيز خان، له منځنۍ آسيا څخه ګوډ تيموراوبابر او ډير نور. ډير شمير زړورو سياحانو لکه فاهيان، هوان سانګ، چينايي بودايي راهبانو، کوريايي بودايي راهب هوی چوآو، مراکشي جغرافيه پوه ابن بطوطه او دوينس نامتو سوداګر مارکوپولو دافغانستان په لاره اوږده سفرونه کړي اوبيا يې دخپلو سترګو دليدلي حال او دهغو پيښو په باب چې کله ناکله به په يوه نابلده وطن کې ورسره مخامخ کيدل په زړ پورې خبرې ليکلې دي.

# دافغانستان شتمن فرهنگي ميراث

هغوکسانوچې په دې لويه لاره تللي اوراغلي دي د يربنه شيان او سوغاتونه هم له ځان سره وړي دي ، لکه وريښم چې له هغه وروسته دا لاره په دې نامه ياده شوې ده.دې سياحانو برونزي (برنجي) لوښي ، مسي کاسې او کوزې ، له سپينو مرمرو ، سماک تيږې او لاجوردوڅخه جوړشوي لاسي صنايع ، له عاج څخه جوړې شوې مجسمې ، په لاک باندې پوښل شوي توکي ، له خالصو سرو زرو څخه جوړې شوې غاړکۍ ، کرې ، مرتبانونه ، په غميو پټې آيينې او همدا راز بيلابيل داروګان ، پوستينونه ، نيل ، پخته ، اوسپنيزې

توري ، قیمتي تیږې ، خاورین او شیشه يي لوښي ، وړې او سپینسي ، کهرباا او مرجان او ډیر نورشیان له ځان سره وړل. ځینې داشیان له ډیرو لیرې هیوادونو لکه له یونان ، مصر ، هندوستان او چین څخه راتلل او ځینې دلاسي صنایعو سیمه ایزوماهرینو جوړول. له پیړیو پیړیو راهیسې له وړیو اووریښمو څخه ډیرې ښکلې غالۍ او فرشونه دلته جوړ شوي دي او اوس هم جوړیږي او نړیوال بازار ته دخرڅلاو لپاره وړاندې کیږي. دافغانستان دلرغوني تاریخ په اوږدو کې خلکو ډیر ښکلي شیان او سترې ودانۍ جوړې کړې دي چې یوزیات شمیر یې تر اوسه هم لا پرځای پاتې دي . له برم او پرتم نه ډک جوماتونه ، مقبرې ، څلي او منارونه ، جنګي کلاوې ، بالاحصارونه او ماڼۍ ؛ داسې ښکاري چې مخکینیو نسلونو هغه موږ ته ددې لپاره پرې ایښي دي چې راتلونکي نسلونه په حیرت کې واچوي او خوند وروښي.



# مذهب، علوم او پوهنه په افغانستان کې

پریادوشویوارزښتمنو شیانو برسیره ځیني نورشیان لکه مفکورې، کتابونه اوعلوم هم ووچې له نوروځایو نو څخه افغانستان ته راغلي وو اودلته یې خپلې نسبي پرځای پرېښودې. داسلام د سپیڅلي دین له ظهور نه ډېر پخوا دلته زیات شمیر ادیان رایج وو، لکه زردشتیزم، بودیزم او هندوییزم. لکه څنګه چې د آریاییانود دین دبنسټ ایښودونکي اورهبر آریایي زردشت، دهندي آشوکااو کوشاني پاچاکنیشکا بودیزم افغانستان ته راوغځیدل همداسې په اسلامي دوره کې دنامتو فیلسوف او طبیب ابن سینا بلخي لیکنې چې دطبي قانون کتاب یې دطبابت په تاریخ کې یوله ډېرومشهورو

کتابونو څخه دی په ټولوځایو کې مشهورې شوې .

دعلومو او فرهنګي پوهې د تبادلې یوه څپه د نړۍ له مختلفو برخو څخه افغانستان ته راورسیده ، دلته یې ریښې وځغلولې او زیاتونې پرې وشوې او له ډیرو لیرې هیوادو څخه ډول ډول مهارتونه او کسبونه دلته راورسیدل او نوره وده یې وکړه .



# دافغانستان موقعیت په سیمه او نړۍ کې

افغانستان په نړۍ کې دخپل موقعیت له مخې له خپلو گاونډیو او هغو هیوادو سره چې په لیرې سیمو کې پراته وو، تل نژدې روابط درلودل. ټول هغه ارزښتمن آثار چې تر اوسه موندل شوي موږ ته ددې هیواد په تاریخ باندې رڼا اچوي او دهغو خلکو په باب چې په افغانستان کې یې ژوند کړی او نننی افغانستان یې موږته میراث پریښی په کافي اندازه خبرې کوي . هغه لیکنې چې په یوناني رسم الخط، او دفارس دهخامنشیانو په رسمي ژبه ارامیک باندې پرډبرو باندې کیندل شوې دي تر اوسه لا شته . آشوکا ددې لپاره چې په کندهار کې پخپلو دیني اصولو باندې خلک و پوهوي دمثال په ډول دواړه رسم الخطونه یعنی یوناني او ارامیک کارول.

# ولې موږ باید د خپلو ملي شتمنیو ساتنه وکړو؟

ACKU

دغه لرغونې ډبرې او ټول هغه آثار چې په افغانستان کې پیدا کېږي هغه څه دي چې د هغو له لارې موږ پخپل پخواني تاریخ باندې پوهیدای شو او داشیان ددې لپاره دي چې ذخیره شي او ساتنه یې وشي؛ ځکه چې دا د ټولو افغانانو ملکیت او ډیر مهم

شیان دي او موږ ته ډیر څه رابنودلای شي . په دوی کې دویلو لپاره ډول ډول کیسې او دزده کړې لپاره په زړه پورې درسونه شته . که داشیان د تل لپاره ورکیږي مانا یې داده چې موږ دخپلو ملي شتمنیو تر ټولو ارزښتمنه برخه له لاسه ورکوو . موږ باید په دې آثارو وویاړو او ویې ساتو او داکار باید نه یوازې دځان لپاره وکړو بلکې دخپلو ماشومانو ، لمسیانو او دټولو هغه نسلونو لپاره وکړو چې راپسې راروان دي . ډیر شیان شته چې موږ یې له لرغونو زمانوڅخه زده کولای شو .


افغانستان

ACKU

# موږ باید خپلې ملي شتمنۍ خوندي وساتو

ځینې خلک دافغانستان د تاریخ په باب کافي معلومات نلري او ددې خبرې په ارزښت نه پوهیږي چې ولې باید دغو ښکلو شیانو ته پاملرنه وکړي او خوندي یې وساتي. دوی یوازې په دې پوهیږي چې داسې خلک شته چې دځانګړو شیانو لپاره ډېرې لوړې بیې



ورکولو ته تیار دي او همدا خلک ځینې وخت دغه شیان غلاکوي او د پیسو د گټلو لپاره یې خرڅوي. په دې ډول ډېر باارزښته شیان له افغانستان څخه ایستل شوي دي او ښایي بیا هیڅکله هم هغو خلکو ته په لاس ورنشي چې یو څه ځینې زده کولای شي. دلاسي صنایعو لکه د غالیو، فرشونو او مسي لوښو خرڅول غلط کار نه دی؛ مگرد هغو شیانو خرڅول ډېر غلط کار دی چې د افغانستان د تاریخ یوه برخه ده او د ټولو افغانانو ملکیت دی.

# څنګه خپلې ملي شتمنۍ خوندي ساتلی شو؟

ACKU

افغانان باید په ګډه هڅه وکړي چې ټول هغه شیان چې په دوی پورې اړه لري خوندي وساتي، څارنه یې وکړي او د هغو خلکو مخنیوی وکړي چې دا با ارزښته شیان له هیواد نه بهر باسي او خرڅوي یې. هغه کسان چې زموږ ملي شتمنۍ غلا کوي له خپل هیواد سره مینه نلري او یوازې د برباد ولو فکر یې ورسره دی. که

موږ په رښتيا له خپل هيواد سره مينه لرو او په دې وياړو چې موږ د دې هيواد او سيدونکي يو، دا مودنده ده چې د دغو ودانيو او نورو با ارزښته شيانو څارنه او ساتنه وکړو او په ښه توگه يې ترميم کړو. موږ بايد دا شيان له منځه يونه سو، بلکې خپلې داملي شتمنۍ په خوندي ځايونو او موزيمونو کې وساتو او هر هغه څوک چې هيله لري، د دې آثارو د ليدلو لپاره ورشي او خوندترې واخلي.



## ولې موږ باید د خپل هېواد او د هغه د تاریخ په باب ځانونه وپوهوو ؟

زموږ لپاره ډېر مهمه ده چې دامکان تر حده په خپل پخواني تاریخ باندې پوه شو او د دې مقصد لپاره موږ باید تاریخي ودانیو او ارزښتمنو شیانو ته چې لرو یې مراجعه وکړو او همدا راز تول هغه شیان چې موږ پرې پوهیږو باید خپلو ماشومانو او لمسیانو ته ولیږدوو او هغوی هم باید وپوهیږي او داهیله ولري چې دغه ارزښتمن شیان د تل لپاره خوندي وساتي.

ACKU



# له اسلام څخه مخکې

هغه ځینې سیمې چې د اسلام د سپېڅلي دین له ظهور نه مخکې زموږ د هیواد د تاریخ په باب موږ ته ډېر څه ویلای شي دادي:

## ● سرخ کوتل :

دادباختري هنر یوه مهمه سیمه ده چې تاریخ یې دوهمې میلادي پېړۍ ته رسېږي. دا سیمه د کابل - مزارشریف پرلویه لاره د هندوکش پر غرونو پرته ده. سرخ کوتل چې دیوې غونډۍ پرسر یوه لویه سیمه رانغاړي معبدونه، یو لوی ډگر له اوسپنیزو فیل پایو سره او داوربلو لو لپاره یو لوی چرگی پکې دي. له لاندینۍ برخې



څخه دغونډۍ سرته پراخې زينې ورجگې شوې دي چې دغونډۍ په پاسنۍ برخه کې ديوې مجسمې په بقاياوو باندې پای ته رسيږي. ويل کيږي چې دامجسمه دکوشاني پاچا کنيشکاده. له دې ځای څخه په زياته اندازه زرې سکې او ډېر ليکونه هم لاس ته راغلي دي چې په کوشاني ژبه او په يوناني رسم الخط باندې ليکل شوي دي او ښيي چې څنگه ختيځ او لويديځ فرهنگونه دپيړيو په اوږدوکې يو له بل سره گډشوي دي.

## ● باميان:

دافغانستان په مرکز کې په يوه ليرې دره کې او له شمالي ښار بلخ څه دپاکستان ټکسيلا ته دتلونکې لويې لارې پرغاړه ، دبودا دوه ډېر ستر هيکلونه ښکاري. دادوه مجسمې ددريمې ميلادي پيړۍ په شاوخواکې پريوه لوی پاڼ په يوه شگلنه گا گره کې کيندل شوې دي چې دنړۍ له عجايبو څخه شميرل کيږي. بوداييانو به



دچین او کوریا په ګډون دنړۍ له بیلا بیلو هیوادونو څخه اوړدې لارې وهلې چې دامجسمې ووینې. دا په نړۍ کې دبودا تر ټولو لویې مجسمې دي چې دیوې لوړوالی پنځه پنځوس متره او ددوهمې اته دیرش متروته رسیږي.

## ● ګندهارا:

ګندهارا هغه سیمه وه چې په یوه وخت کې دکابل او سوات دسیند ونو پرغاړه دپرتو سیمو او پیښور ترمنځ- هغه ځای چې اوس په افغانستان او پاکستان پورې اړه لري- پرته وه. ګندهارا دتګ راتګ دیوې مهمې څلورلارې پرسر موقعیت درلود او مخکې له دې چې سلطان محمود غزنوي هغه ونیسي او داسلام سپیڅلی دین هلته خپور کړي په مختلفو زمانو کې دهندو یونانی، شاکانو، پارتیانو او کوشانیانو له خوا اداره کیده. ګندهارا دپیړیو په اوږدو کې دبودایي دین یو مهم مرکز و او له لومړۍ میلادي پیړۍ څخه تر



شپږمې میلادي پېړۍ پورې دبودایي هنر داسې یوې روښانه دورې وده پکې وکړه چې هندي اورومي دواړه عناصر پکې وو او دختیځ او لویدیځ فرهنګ یوه ګډوله وه. دانسانانو او ځارویو دسر په زر ګونو ښکلې مجسمې چې په دغه دوران پورې اړه لري دپاکستان له ټکسیلا او جلال آباد ته نژدې له هډې څخه - هغه ځای چې تراوسه پورې دبودا دسر څه دپاسه درویشت زره مجسمې ورڅخه لاس ته راغلې او بې له شکه ډیرې نورې لاتر خاورو لاندې پټې دي- موندل شوې دي. په دغو مجسمو کې په یوه زیاته اندازه دبودا هغه مجسمې هم شمېرل کیږي چې په قالبونو کې د ګچو له مرکباتو څخه جوړې شوي او یا په ډبرو کې کیندل شوې دي.

# اسلامي دوره

داسلام د سپیڅلي دین له ظهور سره سم د هنر، علم او فرهنګ په ډګرونو کې نور پرمختګونه هم راغلل. لویو پاچایانو چې هوښیار جنګیالي هم وو پرتمینې ودانۍ جوړې کړې او د شاعرانو، لیکوالو، تاریخ لیکونکو، ستورو پېژندونکو، ریاضي پوهانو، فزیک پوهانو او هنرمندانو کارونو ته یې ځانګړې پاملرنه کوله او په دې ډول د دوی افکار د افغانستان له سرحداتو څخه وراندې ولاړل او خپاره شول. د فرهنګ او تمدن په مرکزونو کې دغه سیمې ډېرې مهمې وې:

## ● غزني :

غزني په افغانستان کې داسلام د سپیڅلي دین د ظهور په لومړیو وختونو ( لسمه میلادي پیړۍ ) کې دغزنویانو د سلطنت مرکزشو او دسلطان محمود غزنوي له خوا اداره کیده . هغه نه یوازې یو ځواکمن پاچا و بلکې دهنرونو یو ښه پالونکی هم و .

سلطان محمود غزنوي دغزني ښار له سترو پوهانو او هنرمندانو ډک کړ. دنهه سوه تنه پوهانو په ډله کې چې دغه وخت په غزني کې اوسیدل او کارېې کاوه یو هم مشهور عالم او پوه البیروني وچې د خپل وخت دډیرو پوهو کسانو په ډله کې راته. هغه په ډیرو علوموکله په نجومو ، ریاضی ، فزیک ، طب او تاریخ باندې ډیر ښه پوهیده او ډیرې ژبې یې زده وې. البیروني له مشهور عالم ابن سینا بلخي سره نژدې رابطه درلوده. ددې دوران بل نومیالی شاعر فردوسي وچې اوږده او ستره حماسه ، شاهنامه یې ولیکله. که څه هم دمحمود او



فردوسي تر منځ اړیکې چندان ښې نه وې او ځینې روایات وایي چې ددواړو ترمنځ اختلافونه ډېر زیات وو. دسلطان محمود غزنوي قبرتر اوسه پورې روغ پاتې دی چې ورسره په څنګ کې دوه څلي او یوه لویه کلا هم ده. ښایي چې دغه برجونه به دجام د پرتمین څلي دجوړولو لپاره چې ددولسمې میلادي پېړۍ په پای کې دغور په یوه لیرې ځای کې ودان شوی و دیوې نښې په توګه کارول شوي وي. دا څلی تر ۱۹٤۳ میلادي کال پورې چې د هرات د والي عبد الله ملکزاده له خوا لا نه و موندل شوی ناپېژندل شوی پاتې و. دغزنویانو ددورې معماري همدا راز دافغانستان په جنوب لویدیځ ښار لښکرګاه کې هم لیدای شو. په دې ځای کې یوه ستره او پرتمینه لیندۍ (طاق) ولاړه ده او یوه ماڼۍ او دسرتیرو داستوګنځي نښې نښانې هم لیدل کیږي.

## ● هرات :

هرات دافغانستان له ډېر ولرغونواوښکلو ښارونو څخه دی. ددغه ښار پخوانی موقعیت دسوونو کلونو په ترڅ کې ښايي چې پخپل اوسني ځای اويا دې ته نژدې په کوم بل ځای کې و. دا هغه ښاردی چې سکندر مقدوني هلته دیوې سترې کلا د جوړولو امرورکړی و. دابنار په ٦٦٠ میلادي کال کې داسلام لښکروونیو، په ۱۳مه میلادي پیړۍ کې دچنګیز خان لاس ته ورغی او یوه پیړۍ وروسته ګوډتیمور هلته حکومت کاوه. دغه وخت هرات دعلم او هنر یولوی مرکز شو او انځورګرانو، شاعرانو، هنرمندانو او معمارانو ټولو په دغه ځای کې فعالیت کاوه. اوسني انځور ګران، معماران او غالۍ اوبدونکي تر اوسه هم له هغو آثارو څخه الهام اخلي چې پنځه سوه کاله مخکې دلاسي صنايعو دماهرانو او هنرمندانو په لاسونو چې هلته يې ژوند کاوه رامنځ ته شوي وو.

د میناتوري مشهور انځورګر بهزاد چې یو یتیم هلک و او یوه بل انځورګر د ده پالنه وکړه هم د هرات په ښارکې را لوی شوی دی. بهزاد په ۱٤۸٦ میلادي کې د هرات د مدرسې مشرشو او تر ۱۵۰٦ پورې دادنده ورپه غاړه وه. د ده د مشرتوب په موده کې دامدرسه د هنر دیوې زانګو په توګه تر بل هروخت نه پراخه شوه. په دغه ښار کې یوه ستره کلا او د هرات جامع جومات د هغه له ځلیو سره، او ورسره جوخت یوه دیني مدرسه چې له دیارلسمې میلادي پیړۍ را په دې خوا د هنر د عظمت یوه نښه ګرزیدلې تر اوسه هم لیدل کیږي.

په هرات کې یوه بله دیادولوړ دیني مدرسه د ګوډ تیمور د کشري زوی شاهرخ د میرمنې ملکې ګوهرشاد په امر جوړه شوې ده. ګوهرشاد یوه حیرانوونکې او ډیره ښکلې ښځه وه چې له پنځوسو کالو څخه د زیات وخت لپاره یې په هرات کې حکومت وکړاو ښایي په نړۍ کې یوازینۍ ملکه وي چې په ډیر خلاص لاس



او سخاوت سره يې د هنر و نو پالنه کړې ده . د مشهور متصوف او شاعر خواجه عبد الله انصاري د مزار ښې هم د هرات د ښار په گازرگاه کې لا پرځای پاتې دي. په دې ځای کې شاهرخ داسې ودانۍ جوړې کړې دي چې ډېرې زياتې پيسې يې پرې لگولي او له تيموري هنر څخه په کار اخيستلو سره يې تزئين کړې دي.

## ● مزار شريف او بلخ:

مزارشريف د افغانستان په شمال کې پروت دی او د آبي جومات په نامه يو ښکلی جومات لري چې د نړۍ مسلمانانو ته د خورا زيات اهميت لرونکی زيارت پکې دی. دا د حضرت پيغمبر محمد (ص) د زوم حضرت علي (ک) مقبره ده او هغه په دې ځای کې ښخ دی او د نړۍ له ليرې او نژدې سيمو څخه زيارت کوونکي د دغه زيارت ليدو ته راځي. زيارت ته څېرمه جومات دی چې د خپلو سپينو کوترو د ډلو په خاطر چې شاوخوا الوزي ډېر زيات شهرت لري. مزارشريف ته نژدې د بلخ د لرغوني ښار نښې نښانې ښکاري. د دې ښار تاريخ له



میلاد څخه پنځو سوو کالو مخکې زمانې ته رسیږي .


له میلاد څخه ۳۲۹ کاله مخکې سکندر مقدوني د ښارونیو او هلته یې له ښکلې شاهزادګۍ رکسانا ( رخشانه ) سره لیده وشول او واده یې ورسره وکړ. رکسانا د اوکسوس ( آمو ) د سیند له پورې غاړې ،اوکسیانا څخه راغلې وه. بلخ په اتمه میلادي پېړۍ کې د علم او فرهنګ په داسې یوه ستر مرکز بدل شو چې د « ام البلاد » یا د ښارونو د مور په نامه به یادیده . په ۱۲۲۰ میلادي کال کې دا ښار د چنګیز په حملو کې وران شو مګر په ۱۵ مه میلادي پېړۍ کې بیا ودان شو. د دې ښار ستر دیوالونه چې اوږدوالی یې یوولس زرو مترو ته رسیده هم په همدې وخت کې له سره جوړ شول . د دې ښار ارزښت وروسته د ډېرې ناوړه هوا له امله ورو ورو په کمیدو شو . د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د دې ښاراداري مرکز لومړی « تخته پل » ته او وروسته بیا مزار شریف ته ولیږدول شو .

## ● کابل :

کابل ښار یو اوږداو په زړه پورې تاریخ لري. دا ښار دهغې لویې لارې په اوږدو کې پروت دی چې دافغانستان له شمال څخه دهندوکش دلوړو غرونو له سره جنوب او ختیځې خواته دخیبر په لور پاکستان، هند او شاوخوا سیمو ته ځي. دغه ښار مشهور یوناني منجم، دجغرافیې عالم او ریاضي پوه «بطلیموس» په دوهمه میلادي پیړۍ کې هغه وخت چې کوشانیانو چار یکارته نژدې په کاپیسا کې پراخ او غوړیدلی مرکز درلود و پیژاند. دکوشاني بودایي شاهانو له سلطنت څخه وروسته تر هغه وخته چې دغه ښار په ٦٤٤ میلادي کال کې داسلام د پوځونو له خوا ونیول شو او حتی وروسته له هغه هم دلته هندوشاهي حکومت واک چلاوه. ځوان مغل پاچا بابر په ۱۵۲۵ میلادي کال کې له کابل څخه وخوځید چې دمغلو د امپراطورۍ مرکز دهند په آگره نو مي ښار کې ټینګ کړي.

په شپاړسمه او اولسمه میلادي پیړۍ کې چې د مغلو د تسلط دوره وه کابل یو مهم ایالتي مرکزو. په ۱۷۷٦ میلادي کال کې تیمور شاه د احمد شاه بابا زوی له کندهار څخه کابل ته راغی او له هغه وخته ترنن ورځې پورې کابل د افغانستان پایتخت پاتې شوی دی. بابر د مغلي امپراطورۍ بنسټ ایښودونکي له کابل سره ډیره زیاته مینه درلوده ،آن دومره چې وصیت یې وکړ چې دده مړی په کابل کې خښ کړي. د بابر ساده قبر چې له مرمر و څخه جوړ شوی دی اوس هم په هغه باغ کې شته دی چې دده په نامه یادیږي.

د کابل په ښار کې یوبل تاریخي ځای د کابل بالاحصار دی. د کابل بالاحصار یوه ډیر پراخه او ستره تاریخي کلا او جنګي سنګر دی چې د یوې غونډۍ پرسر موقعیت لري. دا هغه ځای دی چې د ښار د تدافعي دیوالونو د جوړولو کار په پنځمه میلادي پیړۍ کې پیل شوی و او د ۱۳۰۰ کلونو لپاره یې دوام وموند.



## ● کندهار :

د کندهار ښار د افغانستان په یوه مهم جغرافیایي موقعیت کې پرهغه لاره پروت دی چې دلویدیځ لوري ته دهرات او مرکزي آسیا ، او دختیځ لوري ته د پاکستان او هندوستان خواته ځي. د کندهار ښار دخپل جغرافیایي اهمیت په خاطر ډېر ځل دجګړو مرکز ګرزیدلی دی. له میلاد څخه مخکې په څلورمه پیړۍ کې سکندر مقدوني دا ښارو نیو. له څه ناڅه ۳۰۰۰ کالورا په دې خوا ، یعنې د برونزو (برنج ) له زمانې څخه خلکو په کندهار کې ژوند کړی دی. کله به لویدیځو امپراطوریو پردوی حکومت کاوه او کله ختیځو ؛ تر هغه وخته پورې چې په ۱۷٤۷ میلادي کال کې دا ښار پخپله د یوې افغاني امپراطورۍ مرکز شو.

داحمد شاه بابامزار له خپل ښکلي طلایي ګنبد سره په دې ښار کې دی .احمد شاه دراني یو سترجنګیالی او دداسې یوې امپراطورۍ بنسټ ایښودونکی وچې د آمو (اوکسوس ) له سیندڅخه دجنوب



خوا ته د هند تر سمندره ، او له خراسان څخه تر کشمیر ، پنجاب او سنده پورې غځېدلې وه. هغه په ۱۷٤۷ میلادي کې د خلکو له خوا په پاچاهۍ غوره شو او کندهار یې خپل مرکز وټاکه. د احمد شاه بابا مزار ته نژدې یو بل سپېڅلی ځای دی چې د خرقې مبارکې په نامه یادیږي. په دې ځای کې د حضرت رسول اکرم (ص) مبارکه خرقه ساتل کیږي. کندهار یو وړوکی ارګ هم لري او د ښار په جنوب کې له مرکز څخه تقریباً ۵ اتو کیلو مترو په واټن د باباولي (رح) باغ او مشهور زیارت پروت دی.

# خپل هېواد وپېژنئ

داوويو شمير مهم او مشهور ځايونه او هغه څه چې موږ ته د افغانستان د تاريخ اوخلکو په باب يوڅه رابنودلای شي. اوس موږ پوهيږو چې په پخوانيو زمانو کې کوم خلک دلته اوسيدلي دي. دغه شتمن او رنگين فرهنگ چې دغوخلکو راتلونکونسلونو ته ديادگار په توگه پريښی موږته ديرڅه رانبودلی او ويلای شي. ډيرنور مثالونه هم شته. موږ دنده لرو چې د امکان تر حده په دې باب زده کړه وکړو او بايد هڅه وکړو چې دغه شيان راتلونکونسلونوته خوندي وساتو او خپل دغه معلومات له نورو سره گډ کړو.

# پېښن لیک

## له اسلام څخه مخکې:

- له ۳۰،۰۰۰ (م.م) څخه تر ۱۲۰۰۰ (م.م) پورې د ډبرې زمانه
- له ۳۰۰۰ (م.م) څخه تر ۲۰۰۰ (م. م) پورې د برونزو زمانه
- له ۱۵۵۰ (م.م) څخه تر ۳۳۰ (م. م) پورې هخامنشیان
- له ۶۰۰ (م.م) څخه تر ۶۰ (م) کاله پورې باختري امپراطوري
- ۵۲۲ (م.م) کال د زردشتیزم د بنسټ ایښودونکي زردشت مړینه

-له ۳۳۰ ( م.م ) څخه تر ۳۲۷ ( م. م ) پورې سکندر مقدوني په افغانستان کې

- ۳۲۳ ( م.م) دسليوسيد دوره

-له ۳۰۵ ( م.م) څخه تر٤٨ (م) پورې ديونانو باختري دوره

-له ۲٦٥ (م.م) څخه تر ۲۳۸ (م.م)پورې آشوکا

-له۱۲۷ (م)څخه تر ۱٤٥ (م) پورې دجغرافيې عالم، ستوري پيژندونکی، او رياضي پوه بطليموس Ptolemy

-له ۱۳٥ ( م.م) څخه تر ۲٤۱ (م) پورې دکوشانيانو دوره

- ۱۳۰ (م) کال دکنيشکا پاچاهي

-له ۳۹۹ ( م) څخه تر٤١٤ ( م) پورې فاهيان Fa Hsien سياح په افغانستان کې

## له اسلام څخه وروسته :

-٦۲۹ (م) کال- هوان سانگ Tang Hsuan سياح په افغانستان کې

- ٦٤٢ (م) کال - په افغانستان کې د اسلام د سپيځلي دين ظهور

- له ٩٣٥ (م) څه تر ١٠٢٠ يا ١٠٢٦ (م) پورې فردوسي

- له ٩٦٢ (م) څخه تر ١١٨٦ (م) پورې غزنويان

- له ٩٧٣ (م) څخه تر ١٠٤٨ (م) پورې البيروني

- له ٩٨٠ (م) څخه تر ١٠٣٧ (م) پورې ابن سينا

- ٩٩٨ (م) کال د پاچاهۍ پر تخت د سلطان محمود غزنوي کيناستل

- له ١١٤٨ (م) څخه تر ١٢٠٢ (م) پورې غوريان

- په ١٢١٢ (م) کې پر افغانستان د چنگيز يرغل

- ١٢٢٠ (م) تر ١٣٣٢ (م) پورې د چنگيز او د هغه د اولادې حکومت

- له ١٢٥٤ (م) څخه تر ١٣٢٤ (م) پورې مارکوپولو Marco polo

- ١٢٧٣ (م) کال - مارکوپولو سياح په افغانستان کې

- ١٣٠٤ (م) تر ١٣٦٨ يا ١٣٦٩ (م) پورې ابن بطوطه Ibn Batuta

- ١٣٣٣ (م) کال - ابن بطوطه سياح په افغانستان کې

- له ۱۳٦۹ (م) څخه تر ۱۵۰٦ (م) پورې تیموریان

- له ۱۳۷۷ (م) څخه تر ۱٤٤۷ (م) پورې شاهرخ د تیمور زوی او دملکې گوهرشاد خاوند

- له ۱٤۵۵ (م) څخه تر ۱۵۳٦ (م) پورې بهزاد انځورگر

- له ۱٤۸۳ (م) څخه تر. ۱۵۳ (م) پورې په هند کې د مغلي امپراطورۍ بنسټ اېښودونکی بابر

- له ۱۵۰٤ (م) څخه تر ۱۷۰۹ (م) پورې د مغلو حکومت

- له ۱۷٤۷ (م) څخه تر ۱۷۷۲ (م) پورې درانیان

# پوښتنې

١- دافغانستان ددريو مشهوروپاچايانو نومونه واخلئ.

٢- ددريو مشهوروسياحا نونومونه واخلئ چې پر افغانستان تير شوي وي.

٣- دافغانستان دهغو ښارونواوځايونو نومونه واخلئ چې جوماتونه يې مشهوردي.

٤- داسلام له ظهور څخه مخکې کوم اديان دلته رايج وو ؟

٥- دافغانستان دهغو پاچايانو نومونه واخلئ چې دهنرونواو علوموښه پالنه يې کړې وي.

٦- دختيځو او لويديځو هيوادونو هنري ( فرهنگي ) جريانونه په څه ډول او په کومه لاره په افغانستان کې سره گډ شول ؟

٧- افغانان څنگه کولای شي چې دخپل فرهنگ ساتنه وکړي او خوندي يې وساتي ؟

۸- په څه ډول د افغانستان موقعیت چې د نړۍ په نقشه کې د یوې لویې څلور لارې پر سر موقعیت لري د دغه هیواد پر تاریخ او فرهنگ باندې اثر اچوي؟

۹- د کابل ښار څه وخت وپېژندل شو؟ څه وخت د افغانستان اداري مرکز شو؟ د هغه امپراطور نوم واخلئ چې دلته ښخ دی.

## بحث او فعالیت

۱- د هغو مشهورو ځایونو نومونه واخلئ چې تاسو په افغانستان کې لیدلي دي او د هغو په باب له نورو سره خبرې وکړئ. له خپلو دوستانو نه هم پوښتنه وکړئ چې هغوی کوم مشهور ځایونه لیدلي دي.

۲- له خپلو ملگرو او دوستانو سره بحث او خبرې وکړئ چې د افغانستان د کومې سیمې له لیدو سره زیاته مینه لري او ولې. هیر نه کړئ چې د نورو نظریاتو ته هم غوږ ونیسئ.

۳- له خپلو دوستانو سره بحث وکړئ چې که په افغانستان کې کوم باارزښته او قیمتي شی پیدا کیږي، څنگه کولای شو هغه خوندي وساتو او باید څه وکړو چې ټول خلک وکولای شي هغه ووینې؟

٤- د افغانستان د یوې مشهورې سیمې په باب یو لنډ مضمون ولیکئ. خپله لیکنه خپلو دوستانو ته ولولئ. د خپلې لیکنې په باب د هغو نظر وپوښتئ.

# دافغان نشراتي اداري (انا) مخکيني کتاب



# دافغان نشراتي اداري (انا) راتلونکی کتاب

نوی کور، نوی ژوند

BBC AEP

## خا مي خښتي

## The Earth Bricks



"New Home, New Life"

# "Know Your Country"

It is a great pleasure for all of us at the Afghan Publishing House to present "Know Your Country" to our readers. We are thankful to John Allen who thought of writing this simple reader on Afghanistan, which gives an insight into the history and heritage of the country.

"Know Your Country"opens a window on to a peaceful past of a country, which now has to rise from beneath the ashes of the civil war, to discover that it has lost most of its historical legacy, and to rediscover its integrity and peace.

We would also like to record our sincere thanks to Nancy Hatch Dupree, whose first hand knowledge of Afghanistan and its heritage, greatly contributed to the information given in this book. Nancy also provided us with some valuable pictures from her rich archive, the ARIC library, which we were unable to find elsewhere. To overcome the problem of publishing pictures and photographs of varying quality, the illustrations were all reproduced by Siddiq Zhakfar, whose artistic ability has been instrumental in the success of the Afghan Publishing House.

As well as finding it a useful source of information on Afghanistan's rich heritage, we do hope that our readers will also greatly enjoy reading "Know Your Country".

PROPERTY OF ACKU 33478

Shirazuddin Siddiqi
Editor In Chief
Afghan Publishing House

**A joint BBC AEP and UNESCO Publication**

| | |
|---|---|
| Published by | : **Afghan Publishing House (APH)** |
| Writer | : John Allen |
| Editor In Chief | : Shirazuddin Siddiqi |
| Artist | : Siddiq Zhakfar |
| Translator | : Ahmad Takal |
| Computer Operator | : Emal Sangaryar |
| Printed by | : Public Art Press |
| Serial Number | : 0019.2001.1000 |

**Copyright © by APH**

**Contact address:**

BBC AEP
8-Abdara Road
P.O.Box 946
University Town
Peshawar, Pakistan
Telephone: (92) 91 842320 / 42765-66
Fax: (92) 91 842319
E-mail:bbcaep@pes.comsats.net.pk

ACKU

BBC AEP UNESCO

# Know Your Country

